ډاکټر ګل مرجان منګل ۲۰۱۱/۰۷/۲۵

# د کابل په ښار کی موټر که د کابل ښار په موټرو کی؟

کابل ښار یو له وګړو څخه د ډکو ښارونو له جملی شمیرل کیږی، چی د بلابیلو مجبوریتونو په بنسټ د افغانستان له مختلیفو سیمو څخه او له ګاونډیو هیوادونو لکه ایران او پاکستان څخه خلک ور مهاجر شوی دی. دغه وګړی ټول ډوډئ ،اوبو، روغتیا او د ژوند په نورو ځانګو کی ډیری اړتیاوی لری، چی د رفع کولو په خاطر باید له کوره ووزی او د خپل اولاد لپاره شته اړتیاوی پوره کړی.
خو د دغه ښار اوسیدونکی د نورو ډیرو ستونزو په څنګ کی موټرو څخه سخت په په تکلیف دی، هغه داسی چی په ښار کی د موټرو د ډیروالی له امله نه شی کولای چی په خپل وخت ټاکلی هدف ته ځان ورسوی، د مثال په ډول که یو څوک غواړی چی د کابل له جادی څخه تر کار ته نو پوری او یا بلی خوا د کابل ښار ته په موټر کی سفر وکړی نو د پنځه دقیقو د موټر واټن تر یو ساعت پوری په لاره کی تیریږی. دا څکه چی په سړکنو بی نظمی ډیره ده او ددی بینظمئ علتونه په لاندی ډول په ګوته کولای شو.



لومړئ علت د موټرو ډیروالی په کابل ښار کی د کرزی په اداره کی د سالیمو مغزو د وجود نه شتوالی دی، دا پدی معنی چی هغه په حکومت کی ناست چارواکی چی د کابل د ښار پلان یی په لاسونو کی دی او یا د نوموړی ښار پلان جوړوی دا محاصبه نه شی کولای چی دغه ښار د څومره موټرو ځای یا ګنجایش لری. او له کومو لارو چارو څخه کار واخلی تر څو د نورو موټرو مخنیوی وکړی چی د لا ډیریدو مخه یی ونیسی.
دوهم علت په حکومت کی فساد یا رشوتخوری ده، چی د ترافیکو(موټرو) د ډیروالی سبب کیږی، هغه دا چی په ګمرکونو کی ناست مسولین پدی خاطر چی خپل جیب یی ډک شوی وی، دی ته نه ګوری چی نور ځای شته او کنه چی د داخلولو اجازه ورکړل شی؟ دا موټر د دی وړ دی چی ورته جواز ورکړی ایا د ژوند چاپیریال خو نه چټلوی؟ په ډیر افسوس چی دا هر څه له پام غورځول کیږی او خپل جیب په نظر کی نیسی او بس.
دریم علت په سړکونو د موټرو ډیروالی د موټرچلونکو د ډیرورئ نه یادوالی دی ،پدی معنی چی اکثراً موټر چلونکی په رشوت باندی لیسنسونه اخیستی دی او د موټر شاته ناست دی نه خپل لاس پیژني او نه د بل لاس. پدی باندی نه پوهیږی چی مثلاً یو څوک ښی لاس ته ګرځی له وړاندی باید چی ښی لاس قید کړی، همدارنګه د کابل موټرچلونکی پدی نه پوهیږی چی په کوم ځای کی د موټر دریدلو اجازه شته او په کوم ځای کی د ودریدلو اجازه نشته.پاتی دی نه وی که په کوم ځای د منع ودریدلو لوحه هم لړیدلی وی او ترافیک کوم موټر ونیسی د جریمی پانه نه ورکوی بلکی یو څو افغانئ تری اخلی او موټر چلونکی په خپله مخه ځیږ.
څلورم علت په داسی حال کی چی د کابل ښار سړکونه هسی هم تنګ دی په همدی تنګو سړکونو ځینی همشریان کراچئ دروی او توکی پری خرڅوی نو کله چی تر نیمایی په کراچیو ونیول شی او پر پاتی نیمایی یی یو شمیر موټرچلونکی د سړک پر سر ودریږی او بیا د ولاړو کراچیو څخه سودا اخلی او که شاته یی څومره قطار ودریږی هیڅ پروا یی نه کوی, نو ځکه خو یو لوی غوبل جوړ شی او سړک ټول بند شی..


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په کابل ښار کی د موټرو ډیروالی نه یوازی د کابل ښاریانو ته په ورځنی ژوند کی په ترافیکی لحاظ ستونزی پیدا کړی دی، بلکی نوموړی موټرونه د کابل هوا ککړه کړی ده.نوموړی موټرونه چی ډیری یی د ژوند چابیریال په اصولو برابر نه دی له حده زیات ګازونه تولیدوی او هوا مرداره کوی. چی نوموړی ګازونه انسانانو ته ډول ډول ناروغۍ پیدا کوی. او همدارنګه نوموړی ګازونه پر اسمان (د سیمی فضا) خرابوی او د چاپیریا ل تودوخه زیاتوی چی دا بیا په خپل وار سره د وچکالۍ او یا ډیرو بارانونو سبب ګرځی چی دواړه په ورځینیو چارو کی زموږ لپاره ډیری ستونزی رامنځ ته کوی.

د حل لاری یی څه دی؟؟

کار پوه کار کونکی په کار ګمارل د یوی ښی اداری لومړی شرط دی.که چیری په ټولو ادارو کی چی له همدی جملی څخه هغه ځوک چی د کابل د ښار پلان جوړولو دنده یی په لاس کی دی په کار پوه کار کونکی په کار وګمارل شی نه یوازی به په کابل ښار کی د شته ترافیکی مشکلات راکم کړی بلکی په همدغه ښار کی به نوری ډیری پرتی ستونزی هم راټیټی کړی.
اګر چی او س اوبه له ورخه تیری شوی دی ،پدی معنی چی د کابل په ښار کی شته موټرونو ته جواز لیکونه ورکړل شوی دی اود جواز بیرته اخیستل اسانه کار نه دی. یو کار چی مخنیوی یی کیدلای شی هغه د نورو جوازسیرونو نه ورکول دی، پدی معنی چی په مطلق ډول د نور جوازونه بند کړل شی. نو اسانه لاره یی داده چی داخل د ښار ته د موټرو داخیلیدل بند کړی او یا پری لوړه مالیه و تړل شی، یعنی باید د ښار د اخل ته موټر لومړی له سره بند کړل شی او که بیا هم د ځینو وګړو اړتیا وی، پری لوړه مالیه ولګول شی. خو کله چی په حکومت کی فساد او رشوت وجود ولری ددی کار تر سره کول ګران کار دی.
اګر چی دا به ډیره مشکله وی چی د کابل د ښار د ټولو موټر چلونکو څخه له سره ازمونی واخستل شی ځکه چی اکثرا یی په ترافیکی قوانینو باندی نه پوهیږی ، خو که ددی امکان وی چی دا کار وشی په ترافیکی مشکلاتو کی به د پام وړ کموالی راولی. او هغه ځوک چی غواړی نوی لیسنس واخلی تر څو چی د ترافیکو په ټولو قوانینو او اصولو بلد نه وی د موټر چلولو اجازه ورنکړل شی.
نه یوازی په کابل ښار کی د موټرونو د ډیریدلو مشکل بلکی د ورځنی ژوند په ټولو اړخونو کی باید هر ځوک خپل مسؤلیت وپیژنی، او د خپل ویجدان سره محاسبه وکړی هغه عملونه چی موږ یی تر سره کوو ، د کولو دی، ایا زه په انسانی او اسلامی لحاض ددی عمل د کولو اجازه لرم؟زموږ لپاره په کار ده چی موږ د خپل ایمان اوویجدان پر بنسټ د خپل ځان محکمه په خپله وکړو او دی ته پری نه ږدو تر څو بل ځوک راته دی انتقاد ګوته ونیسی.

مننه


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ